د۱۳۸۱ لمریز دغبرګولي ۱٦

دافغانستان دبشر حقونو خپلواک کمیسیون

# په افغانستان کي د آزادي سلب سیمو وضعه

# ۱۳۸۸ لمریز کال

# سریزه:

د آزادي سلب سيمو څخه څارنه ځکه اهميت لري چي پورته سيمي تړلي ځايونه دي او د ليد څخه ليري پرتي دي، نو ځکه هلته متهمينو ته د شکنجي ورکولو، توهين او تحقيرولو زمينه تياره ده. هغه څه چي کولاي شي په دغو سيمو کي دشکنجي، بد سلوک او توهينولو مخه ونيسي او يا لږ تر لږه دمتهمينو او محکومينو ځورولو کچه راټيټه کړي يوهم د پورته سيمو څارنه په دوامداره توګه باندي ده.

له نيکه مرغه چي دافغانستان دبشر دحقونو خپلواک کميسيون د ټولو آزادي سلب سيمو څخه په دوامداره توګه باندي څارنه کړي ده. کميسيون د اساسي قانون د ۵۸ مادې سره سم او دهغه واک سره چي د کميسيون تشکيل په قانون کي تسجيل شوي دي، د آزادي سلب سيمو باندي يي څارنه کړې ده. د قانون دغه ماده وايي ((دولت به په افغانستان کي د بشر دحقونو د رعايت دڅارني، ښه والي او ملاتړ لپاره، د افغانستان دبشر د حقونو خپلواک کميسيون جوړوي. هر څوک کولاي شي دخپل بشري حقونو د نقض په صورت کي دې کميسيون ته شکايت وکړي. کميسيون کولاي شي د افرادو دبشري حقونود نقض موارد مربوطه قانوني څانګوته راجع کړي او دهغوي له حقونو څخه په دفاع کي مرسته وکړي))[1]

دآزادي سلب سيمو اهميت او په ځانګړي توګه د محبسونو اصلي موخه په هغه کي پټه شوې ده. د آزادي سلب سيمو اساسي موخه دجرم دپېديدې سره مبارزه او دمجرمينو بيا اصلاح کول دي، نو ځکه بايد ددغه سيمو څارنه وشي او هم ارزيابي کړل شي چي دغه سيمي چي د مجرمينو او قانون ماتونکو د بيا اصلاح کولو او دجرم سره دمبارزې دپاره دي، په څه ډول دي او آيا دقانون سره سم دغه موخي سرته رسيږي او که نه.

دمحبسونو او توقيف ځايونو دقانون سره سم د آزادي سلب سمي عبارت دي دمحبس او توقيف ځاي نه [2]. دهمدغه قانون اوومه ماده محبسونه او توقيف ځايونه داسي بيانوي ((هغه ځايونه دي چي متهم شوي کسان دمحکمې د انتظار په هيله په هغه ځاي کي ساتل کيږي)) دغه ماده محبس تعريف داسي کوي: محبس هغه ځاي دي چي په هغه کي هغه کسان ساتل کيږي چي د محکمې وروستي حکم ته چي محکوم عليه وي انتظار باسي.

دمحبسونو او توقيف ځايونو قانون د توقيف او محبوس شوي کسانو د حقونو د تامين په منظور او په محبس او توقيف ځاي کي د هغوي سره د چلند په هکله او دمحبسونو او توقيف ځايونو د چارو د تنظيم دپاره جوړ شوي دي. د محبس او توقيف ځاي دقانون دلومړي مادې دوهم بند وايي چي د حبس دحکم پلي کول په محبسونو کي يوازي د محبوس شوي کسانو د اصلاح په منظور او ددې دپاره چي محبوس شوي کسان قوانينو ته احترام ولري او هغه رعايت کړي، او دټولنيز ژوند معيارونه، انساني اخلاق، ټولنيز ګټور کار او د جرم نه کولو دپاره ژمن شي، او په همدې ډول دافغانستان اساسي قانون دمتهمو او شکمنو کسانو په اړه روښنايي اچولې ده چي د زمي برائت اصلي حالت دي او هيڅوک مجرم نه ګڼل کيږي مګر دا چي دهغه جرم د باصلاحيته محکمې له خوا ثابت شوي وي، بايد داهم زياته کړو چي د بشر دحقونو نړيوالي اعلاميې او دبشر دحقونو نړيوال کنوانسيون هم د محبوس او توقيف شوو کسانو پرحقونو باندید ټينګار کړي دي. د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق په لسمه ماده کي راغلي دي چي ټول هغه کسان چي د آزاديو څخه بې برخي شوي دي بايد دهغوي سره په احترام او انساني سلوک چي د هغوي انساني ذاتي حيثيت ساتل شوي وي کړني وکي.

دغه ريوټ د افغانستان دبشري حقونو خپلواک کميسيون دسيمه ييزو څانګو دڅارنکو د څارني پر بنسټ جوړ شوي دي. که څه هم د آزادي دسلب دسيمو څخه څارنه په دوامداره توګه سرته رسيدلي ده، خو دغه څارنه دتخنيکي دليلونو له سببه پوره او منظم نه وه، نو له همدې کبله ده چي ددې ريوټ جوړونکي د آزادي سلب په هره سيمه کي دمالوماتو د کمبودي سره لاس په ګريوان وو.

---

[1]- دافغانستان اساسي قانون ۵۸ ماده.

[2]- دمحبسونو او توقيف ځايونو د قانون شپږمه ماده. ۱۳۸۶ لمريز کال.

دمحبسونو په هکله مالومات چې په هرولایت کې یو محبس شته، تقریباً پوره مالومات دي خو دغه مالومات بیا د دولسوالیو په کچه باندي پوره نه دي کوم چې څومره توقیف ځایونه هلته وجود لري.

**یادونه:**

باید یادونه وکړو چې په دې رپوټ کې د قربانیانو نومونه پیژندنه په مستعار ډول باندي راغلي ده:

## د آزادي سلب سیمو په هکله ټولیز مالوماتونه:

دمحبسونو او توقیف ځایونو د قانون دري ویشتمه ماده د زندانونو د ټولیزي وضعي او شرایطو په اړه باندي وايي چې محبسونه او توقیف ځایونه باید د اسلامي ارزښتونو او اصولو او دملګرو ملتونو په معیاري شرایطو باندي جوړ شي او په همدې توګه دقانون د پورته مادې په دریمه فقره کي راغلي دي چې دعدليې او عامي روغتیا وزارتونو په مرسته باندي د مساحت، د اوسیدلو ځاي، د کوټې د روښنائي اندازه او د کوټې دپاکي هوا او د محبسونو او توقیف ځایونو د تودوخي په اړه اړونده تدبیرونه ونیسي.

دمحبسونو او توقیف ځایونو پنځمه ماده وايي محبوس او توقیف شوي کسان دخپل قانوني حقونو څخه په ګټو اخیستلو باندي د جرم په ډول او نوعیت، ځانګړتیاوو، عادتونو او ګډ احساس باندي ویشل کیږي.

دمحبسونو او توقیف ځایونو د قانون نهمه ماده وايي چې دښځو او نارینه وو محبسونه او توقیف ځایونه سره جلا دي او هم هغه کسان چې سن يې د ۱۸ او ۲۵ کلونو ترمینځ وي په جلا محبسونو او توقیف ځایونو کي ساتل کیږي. باید یادونه وکړو چې د محبوس د کوټې ارت والي او فضائي هم د مهمو شرطونو څخه شمیرل کیږي، دهر محبوس دپاره یاهم د هر متهم دپاره ځانګړي شوي فضا او مساحت یو دهغه شاخصونو څخه دي چې په محبسونو او توقیف ځایونو کي ګنه، ګونه راته په ګوته کوي. که څه هم د محبوس د کوټې یاهم د متهم دخوني دپاره ځانګړي معیار نشته، خو د اروپا کمیټې د ظالمانه کړونو، جزاوو او شکنجې دمخنیوي او دغیر انساني او تحقیر دمخه نیولو په غرض دهر کس دپاره ۴ متر مربع دیو ګټور معیارا په توګه چې دګڼه ګوڼي مخه نیسي توصیه کړې ده [۳].

دافغانستان دولت د آزادي سلب سیمو د بیا جوړولو او اداري دپاره پوره بودجه ځانګړې کړې نه ده. دافغانستان داسلامي جمهوریت دمالي وزارت د ۱۳۸۸ لمریز کال دپاره ۶۹۹۷۹۸۰۰۰ افغانۍ بودجه ځانګړې کړې وه، په داسي حال کي چې د محبسونو او توقیف ځایونو عمومي ریاست ۱۲۹۷۸۳۰۰۰۰ افغانۍ د دولت څخه غوښتنه کړې وه، یاني چې دمالیې وزارت دپورته غوښتل شوي مبلغ څخه ۶۰۰ ملیونه افغانۍ لږه بودجه ورته ځانګړي کړې وه [٤].

دمحبسونو او توقیف ځایونو لوي رئیس دمحبسونو او توقیف ځایونو بودجه د کموالي د امله شکایت کوي او دافغانستان د دولت او نړیوالي ټولني څخه غوښتنه کوي چې دا بودجه ډیره کړي.

دکمیسیون د ارزوني له مخي په ډیرو ولایتونو کي د محبسونو او توقیف ځایونو جوړښت معیاري نه دي او د محبسونو او توقیف ځایونو کوټې د محبوس شوي او توقیف شوي کسانو دپاره کفایت نکوي نو په دې توګه ډیره ګنه ګونه په محبسونو او توقیف ځایونو کي راپیدا شوي ده او ډیر ځله محکوم او متهم شوي کسان یوځاي ساتي. د کمیسیون د څارونکو د څارني

[۳]- د زندانونو داصلاح لاربنود دلندن دګیک پوهنتون، پروفیسور اندروکویل ۴۲ مخ.
[٤]- دجنرال امیر محمد جمشید سره مرکه (دمحبسونو لوي رئیس) د۱۳۸۹ کال د وري ۱۴ نیټه.

څخه داسي څرګندیږي چې یوازي دننګرهار او هرات په ولایتونو کي محبوس شوي کسان او یاهم توقیف شوي خلک په جلا جلا سیمو کي ساتل کیږي.

دځاي کمبودي د دې سبب ګرځي چې په ډیرو حالتونو کي په محبسونو او توقیف ځایو کي هغه کسان چې سن یې د ۱۸ څخه تر ۲۵ پوري دي د ډیر سنو (پوخ سنو) سره یوځاي واوسي. د کمیسیون ارزوني را ښئي چې یوازي د پکتیا، کابل، کندهار، فاریاب، کندز، تخار، بغلان، ننګرهار، لغمان او هرات محبوس شوي کسان او توقیف شوي خلک چې سن یې د ۱۸ او ۲۵ کلنو ترمینځ وو په جلاجلا سیمو کي ساتل شوي دي په پاته ۲۴ ولایتونو کي دمحبوس شوي او متهم شوي کسانو جلا والي (تفکیک) په نظر کي نه دي نیول شوي او دوي یوځاي اوسیږي، حتا د دایکندي په ولایت کي ټول هغه محبوس شوي کسان چې سن یي تر ۱۸ ډیر وو ټوله په یوه ځاي کي ساتل شوي وه.

په همدې توګه دمحبسونو او توقیف ځایونو په قانون کي راغلي دي چې محبوس کسان باید دجرم د ډول، ځانګړتیاوو، عادتونو او ګډ احساس له پلوه وویشل شي. چې دغه څه هم دځاي دکمبودي او د ګنه ګوني له امله په ډیرو محبسونو کي سرته نه دي رسیدلي او د محبوسینو او متهمینو نه جلا کولو یوازیني سبب هم د کوټو او ځایونو نشتوالي ښودل شوي دي، خو د جوزجان په ولایت کي که څه هم د حبس شوي او متهمینو د جلاوالي دپاره وسایل په لاس کي لري خو بیاهم ټول حبس شوي او متهم کسان په یوه ځاي کي ساتل شوي دي باید دا ووایو چې یوازي دکندهار، هرات او فاریات په ولایتونو کي حبس شوي او متهم کسان په جلا، جلا ځایونو کي ساتل شوي دي. د کندهار په ولایت کي حبس شوي او متهم کسان په دوه ډلو ویشل شوي دي، جنائي محبوسان او متهمان او هغه محبوسان او متهمان چې داخلي او بهرني امنیت ته خطر پیښوي، جلاجلا سره ساتل کیږي. د هرات په ولایت کي هغه کسان چې د مرګ، قصاص او عمري بند باندي محکوم شوي دي په یوه بلاک کي د ځانګړي رژیم لاندي دنورو څخه جلا ساتل کیږي، په همدي ډول معتاد شوي کسان بیا په جلا توګه ساتل کیږي، د فاریاب په ولایت کي هم محبوس شوي او متهم کسان په دوه ډوله تقسیم شوي دي یوه ډله هغه کسان دي چې جرمونه یې ډیر لوي دي او بله ډله هغه کسان دي چې جرمونه یې کوچني دي.

دمحبسونو او توقیف ځایونو ډیرو مسوولینو ویلي دي چې په محبس او توقیف ځایونو کي د مناسب ځاي او کوټو د نه شتون له کبله دغه شان جلا کول سرته نه دي رسیدلي. یوازي دسمنګان، پکتیا، ننګرهار، جوزجان، هرات، فراه، نیمروز، بادغیس، پروان، غزني، کابل، تخار، کندز او کندهار ولایتونه ځانګړي ځایونه او کوټې لري، خو بیا هم د آزادي دسلب سیمو ځاي او کوټې د لازم معیارونو په مطابق نه دي جوړ شوي.

په تیرو کلونو کي اوه نوي محبسونه او توقیف ځایونه جوړ شوي دي. دکابل ښځینه محبس، د جوزجان ښځینه محبس، د هرات ښځینه محبس، دلغمان، هلمند، خوست او پکتیا ولایتونو کي د مخدره توکو په اړه نوي محبسونه او توقیف ځایونه جوړ شوي دي. د محبسونو او توقیف ځایونو لوي ریاست په نظر کي لري چې هرکال د درو څخه تر څلورو پوري محبس او توقیف ځایونه یا نوي جوړوي او یاهم هغه بیرته ودانوي. په ځینو ولایتونو لکه دایکندي، غور، بامیان، وردک، لوګر، پنجشیر او کاپیسا کي د آزادیو دسلب سیمي په کرایه اخیستل شوي دي. دا ځکه چې هلته دولتي ودانی نشته. په ځینو ولایتونو کي که دنارینه وو دپاره محبسونه شته خو د ښځو محبس بیا په کرایه اخیستل شوي دي، د لوګر، میدان وردک او پنجشیر ولایتونو کي دښځو او توقیف ځایونه نشته. خو په ډیرو ځایونو کي لاولایتونه ځانګړي توقیف ځایونه نلریې، په ځانګړي توګه د ښځو دپاره د بدخشان په ولایت کي پرته د مرکز نه په ولسوالیو کي د ښځو دپاره نه توقیف ځاي او نه هم محبس شته، توقیف ځایونو ودانی یا خو کرائي دي او یا یې هم یو څو کوټې د داخله وزارت دڅارني دخونو څخه ورته ځانګړي کړي دي. د محبسونو او توقیف ځایونو د لوي رئیس جنرال امیر محمد په وینا تر اوسه لا د پلچرخي دوه بلاکه، د کندهار، ننګرهار، هرات، کندز او د کابل ولایت توقیف ځاي لا بیرته نه دي ودان شوي او د بغلان، لوګر، نورستان، پکتیا، غور، دایکندي او بامیان محبسونه بیرته ودانیږي [٥]. دا باید زیاته کړو چې په ټولو ولایتونو او د ولسوالیو په کچه باندي د ښځینه محبوسي او متهمین له نارینه څانګي څخه جلا ساتل کیږي او دښځو محبسونه او توقیف ځایونه یوازي د ښځو له خوا څخه

[٥]- دجنرال امیر محمد جمشید سره مرکه د ۱۳۸۹ کال د وري ۱۴.

ساتل کیږي، خو د کابل په ولایت کي دښځو د کمبودي له ا مله کله کله دنارینه وو څخه هم د څارکونکو کوونکي په توګه کار اخیستل کیږي.

دمحبسونو او توقیف ځایونو د قانون د ۱۲ مادي په مطابق په هر ولایت کي دوه دنارینه او ښځینه محبسونه او توقیف ځایونه باید موجود وي، چې دغه امر تقریبا پرځاي شوي دي اوس اوس هر ولایت دښځینه او نارینه دپاره محبسونه شته، خو په ځینو ولایتونو کي هغوي ځانګړي وداني نلري، په همدې ډول دپورته قانون په همدغه ماده کي راغلي دي چې په هره ولسوالي کي باید یو توقیف ځاي وجود ولري [٦].

په ډیرو ولسوالیو کي د توقیف ځایونو د نشتوالي رپوټ کمیسیون ته ورکړل شوي دي چي دغه یوه جدي ستونزه ده، دبلخ ولایت ۱۴ ولسوالی او یو بندري ښارګوټي لري چي یوازي ۹ ولسوالی یې توقیف ځایونه لري او نوري ولسوالي یې بیا نلري. د ځینو ولایتونو ولسوالي لکه سمنګان، جوزجان، ننګرهار او کندز هم توقیف ځایونه نلري، خو د پکتیا ولایت په هیڅ ولسوالي کي توقیف ځاي نشته او یوازي د ولایت په مرکز کي یو توقیف ځاي وجود لري. د فاریاب ولایت د کمیسیون سیمه ییزي څانګي رپوټ ورکړي دي چي ددې ولایت په ۹ ولسوالیو کي ۹ توقیف ځایونه موجود وه خو په دې وروستیو کي دغه شمیرو ۵ توقیف ځایونو ته راټیټ شوي دي (دغه کار د دولت په امر سرته رسیدلي دي) چي دغه کارته شاته تګ ویلاي شو، په داسي حال کي چې د دولت وعدو داسي څرګنده کړې وه چي دبشري حقونو په برخه کي باید ورځ تر بلي ورځي نوره وده راشي.

## د آزادي سلب سیمو کي د محبوس او توقیف شوو کسانو سره کړني:

دمدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق لسمه ماده د زندانونو نظام ته اشاره کوي، په دې ماده کي راغلي دي چې د زندانونو نظام دمحکومینو سره دکړنو ضمانت کوي چې دهغه اساسي موخه د بندي شوي کسانو اصلاح کول او د حیثیت ټولنیز احترام دي. په همدې ډول دمحبسونو او توقیف ځایونو د قانون ۲۳ ماده څرګندوي چې محبسونه او توقیف ځایونه د اسلامي ارزښتونو د اصولو په نظر کي نیولو او دملګرو ملتونو د سازمان دمعیاري شرطونو سره سم جوړیږي [٧]. او په همدې ډول په دغه قانون کي راغلي دي:

دمحبسونو او توقیف ځایونو څانګي مکلفیت لري چې محبسونه او توقیف ځایونه په روغتیائي مناسبو سامانونو باندي سمبال او دغه سیمه په درست ډول پاکه وساتي.

دمحبسونو او توقیف ځایونو څانګي هر محبوس شوي یا توقیف شوي کس ته د خوب دپاره چپرکټ برابر کي.

دعدلیې وزارت د عامي روغتیا د وزارت په مرسته د مساحت په اړه چي محبوس شوي او توقیف شوي کسان پکي اوسیږي، دهغوي د کوټو د روښنائي اندازه، دهوا د تبدیلي په اړه باندي اړین تدبیرونه ونیسي. [٨].

## د کوټو مساحت او ګڼه ګوڼه:

په محبسونو کي د محبوس شوي کسانو دپاره مناسبه او پوره فضا لرل د ملګري ملتونو د معیارونو څخه ګڼل کیږي د توقیف ځایونو او محبسونو قانون هم د کوټو د مساحت یادونه کړې ده او دعدلیې وزارت یې په دې اړه باندي مکلف کړي دي. په محبسونو کي نباید چې ګڼه ګوڼه وي، ددغه ګڼه ګوڼي په هکله به محبسونو کي یو واحد معیار وجود نلري، خو کیداي شي چې د کوټو دمساحت په اندازه کولو سره دغه ګڼه ګوڼه اندازه کړو. د اروپا کمیټې دیوکس دپاره څلور متر مربع ځاي توصیه کړي دي چې دغه مساحت به په محبسونو کي د ګڼه ګوڼي مخه ونیسي او ګټور به تمام شي. که څه هم دغه کمیټې د توقیف

[٦]- دمحبسونو او توقیف ځایونو قانون ۱۲ ماده، دوهمه فقره.
[٧]- دمحبسونو او توقیف ځایونودقانون ۲۳ ماده، لومړي فقره.
[٨]- د محبوسینو او توقیف ځایونو د قانون ۲۴ ماده.

تیرولو دپاره ۵,۴ متر مربع ډیر کوچني او نامساعد بللي او وايي چې د یوه کس دپاره داسي کوټه چې ۶ متر مربع مساحت ولري مناسب دي او د دوه کسانو دپاره يې ۱۰ متر مربع کوټه کوچنی بللي ده[9].

که څه هم په افغانستان کي به محبسونو کي د ځاي او ساختمان د کمبودي دګڼه ګوڼي اصلي علت ښودل شوي دي خو د محبسونو او توقیف ځايونو د لوي رئیس جنرال محمد جمشید به وینا چې پخپل سربندي کول هم پردغه ستونزو باندي نور زور اچول دي. دي وايي چې ډیر پرخپل سربندوني دپولیس له خوا ترسره کیږي. هغه کسان چې حقوقي دعوي لري، هغو کسانو چې په کوڅو او بازارونو کي مزاحمت کړي دي او یاهم هغه کسان چې دواده کولو په فکر دخپل کور څخه تښتیدلي دي ددوي ډیره برخه د آزادي سلب سیمو ته لیږ دول کیږي.[10] تر اوسه پوري د ۱۶۰۰۰ څخه ډیر محبوس او توقیف شوي کسان د هیواد د آزادیو سلب سیمو کي ساتل کیږي چې د نورو هیوادو سره د محبوسینو دشمیر په پرتله دا یو معمول شمیر ګڼل کیږي.

په افغانستان کي په محبسونو کي ګڼه ګوڼه یوه جدي ستونزه ګڼل کیږي، د کمیسسیون د ولایتي سیمه ییزو څانګو رپوټونه څرګندوي چې په ټولو محبسونو کي ډیره ګڼه ګوڼه ده، دبده مرغه چې د افغانستان د دولت له خوا هیڅ ډول هڅه نده شوې چې دغه ستونزه حل کړي او هیڅ ځانګي هم ددغه ستونزي د حل دپاره کومه چاره نه ده سنجولې حتا په رسنیو کي هم دغه ستونزه هیره شوي او د بشر د حقونو په مدافعه کي هم په دې برخه کي چوپتیا غوره شوې ده.

دمحبسونو او توقیف ځايونو لوي رئیس وايي چې په هغه اوه نوي ودانیو کي چې دبندیانو دپاره جوړي شوي دي دهرکس دپاره د ۳.۵ څخه تر ۴ متر مربع مساحت په نظر کي نیول شوي دي، داسي څرګندیږي چې دغه څه په عمل کي په نظر کي ندي نیول شوي او بیاهم هلته ګڼه ګوڼه لیدل کیږي.

دولایتونو سیمه ییزي څانګي رپوټ کوي چې دغه ګڼه ګوڼه تقریباً د دروڅخه تر څلورو برابره پوري ده دبیلګي په توګه دفاریاب ولایت په محبس کي دکوټو اندازه ۲ متره په ۳ کي یا هم ۳ متره په ۴ کي ده خو په یوه کوټه کي چې مساحت يې د ۲ متر په ۳ کي دي تقریباً ۱۰ کسه ساتل کیږي، خو د فاریاب په ولایت کي د محبس نوي ودانی ترکار لاندي ده، هیله کیږي چې ددې ودانی په جوړیدو سره دغه ستونزه حل شي.

په نورو ولایتونو کي هم د محبسونو په کوټو کي دګڼه ګوڼي وضعه دانديښني وړ ده او د رپوټونو له مخي کوټي وړې او محبوس کسان ډیر دي. د دایکندي په ولایت کي یوه کوټه چې مساحت يې په ۳ متره کي دي د ۱۵ څخه تر ۱۸ کسانو پوري ساتل کیږي. دبلخ په ولایت کي هره کوټه چې ۱۲ متر مربع مساحت لري په منځني ډول باندي ۲۴ کسه محبوس کسان ساتل کیږي، په همدې ډول دبغلان په ولایت کي یوه کوټه چې ۱.۵ څخه ۲ متره مربع مساحت لري ۵ کسان ساتل کیږي. دغه څه د نمونې په توګه بیان شول، خو په لاندي چوکاټ کي د ځینو ولایتونو د محبسونو ګڼه، ګوڼه لیدل کیږي.

---

[9]- دزندانونو د اصلاح په اړه یاداښتونه، پروفیسور اندروکونل، د لندن د کیک پوهنتون ۴۲ مخ.
[10]- دمحبسونو دلوي رئیس جنرال امیر محمد جمشید سره مرکه.

| شميره | د ولايت نوم | دمحبسونو په کوټو کي دګڼه ګوڼي کچه |
|---|---|---|
| ۱ | نیمروز | په هره کوټه کي چي مساحت یې ۱۲ متر مربع وو ۱۰ کسه ساتل کیدل |
| ۲ | سمنګان | په هره کوټه کي چي مساحت یې ۲۴ متر مربع وو ۱۵ کسه ساتل کیدل |
| ۳ | ننګرهار | په هره کوټه کي چي مساحت یې ۲۰ متر مربع وو د ۱۷ څخه تر ۱۸ کسه پوري اوسیدل |
| ۴ | بغلان | په هره کوټه کي چي مساحت یې ۵ متر مربع وو ۵ کسه ساتل کیدل |
| ۵ | تخار | هره کوټه د ۱۵ او یا ۲۰ متر مربع په مساحت باندي ۱۵ او یا ۲۰ کسه ساتل کیدل |
| ۶ | کندز | هره کوټه چي مساحت یې ۱۵ یا ۲۰ متر مربع دي د ۱۵ څخه تر ۲۰ کسانو پوري ساتل کیدل |
| ۷ | جوزجان | په هره کوټه کي چي مساحت یې ۲۴ متر مربع دي د ۱۵ کسانو په شاوخوا کي ساتل کیدل |
| ۸ | بلخ | په هره کوټه کي چي مساحت یې ۱۲ متر مربع دي ۲۴ کسه ساتل کیږي |
| ۹ | کندهار | په هره کوټه کي چي مساحت یې ۴ مترمربع دي ۱ یا ۲ کسه ساتل کیږي |
| ۱۰ | بامیان | په هره کوټه کي چي مساحت یې ۱۰ متر مربع دي په منځني توګه ۳۰ کسه ساتل کیدل |
| ۱۱ | بدخشان | په هره کوټه کي چي ۵۰ متر مربع مساحت لري د 35 کسانو په شاوخوا کي ساتل کیدل |
| ۱۲ | غور | په هره کوټه کي چي مساحت یې ۱۲ متر مربع وو د ۱۰ څخه تر ۱۴ کسه پوري ساتل کیدل |
| ۱۳ | کابل | تقریباً په هره کوټه کي د معیار پر اساس دوه چنده کسان ساتل کیږي |
| ۱۴ | فاریاب | په هره کوټه کي چي ۶ متر مربع مساحت لري ۱۰ کسه ساتل کیدل |
| ۱۵ | دایکندي | په هره کوټه کي چي ۶ متر مربع مساحت لري د ۱۵ څخه تر ۱۸ کسه پوري ساتل کیدل |
| ۱۶ | خوست | په هره کوټه کي چي مساحت یې ۹ متر مربع وو د ۵ څخه تر ۱۰ کسانو پوري ساتل کیدل |

د آزادي سلب سیمو کي ګڼه ګوڼه د محبوس شوي او توقیف شوي کسانو دپاره ناوړه راتلونکي لري، ډیره ګڼه ګوڼه کیداي شي چي د ظالمانه کړني او شکنجي په توګه د انسان وکرامت ته ضرر پیښ کړي، په لومړۍ ګام کي د آزادي په سلب سیمو کي ګڼه ګوڼه د میشته کسانو د رواني نا ارامیو سبب کیدلاي شي. ګڼه ګوڼه او د بندي کسانو د کوټي کوچنیتوب یاني پوره فضانه درلودل پخپله د بشري حقونو تر پښو لاندي کول دي. ساري ناروغي لکه سل او ایڈز کیداي شي چي ډیر ژر دیوه محبوس څخه بل ته ولیږدول شي او د دوي روغتیائي حالت کړکیچن کاندي.

په زندانونو کي ګڼه ګوڼه د جرمونو او تاوتریخوالي کنترول د ستونزي سره مخامخ کوي چي امکان لري دغه حالت د زندان ساتونکو ته دخطره ډک چاپیریال جوړ کړي. په کوټو کي دګڼه ګوڼي حالت د کوټو دلږ ترلږه معیار د روښنائي، هوا او خلوت دپاره تقریباً ناشوني کوي. له بله پلوه څخه که د محبوس شوي کسانو دپاره پوره ځاي موجود نه وي، نو هغه معیار چي د ملګرو ملتونو سازمان او د محبس او توقیف ځایونو له خوا ټاکل شوي دي چي ځوانان باید د پخو خلکو څخه جلا وي او یاهم مجرمین د جرم پر اساس باندي وساتل شوي دغه څه ناشوني کوي.

په لنډه توګه باید ووایو چي په محبسونو کي ګڼه ګوڼه هغه موخه ستونزه منه کوي او یا یې هم نا شوني کوي کوم چي د حبس تطبیقول یو مجرم بیرته اصلاح کوي او داهم د امکان څخه لیري نه ده چي د محبس نا مناسبه فضا ددې سبب شي چي عادي مجرمان په خطرناکه مجرمانو باندي واوړي.

## روښنائي، اسانتیاوي، تودوخه او یخني:

دمحبس او توقیف ځایونو د قانون د ۲۴ مادې ۳ فقره د عدلیې وزارت د روغتیا وزارت په مرسته مکلفه کوي چي د محبس او توقیف ځایونو د کوټو روښنائي، هوا، پاکي، تودوخه باید دټاکلي معیار سره وي. د روښنائي، دلمروړانګي، د رطوبت نشتوالي هغه معیارونه دي چي باید په محبسونو او توقیف ځایونو کي مراعات کړل شي.

له بده مرغه چې د ولايتونو ډېر محبسونو دغه شرايط نلري. د محبس ځيني کوټې دلمر دوړانګو په لور جوړې شوي دي خو ځيني نوري يې بيا د سيوري په لور دي، نو دلمر وړانګي نلري، ځيني محبسونه په دوامداره توګه باندې برېښنا نلري او يوازې د شپې له خوا جنراتور چالانه کوي. يوازي دکابل، فارياب، کندز او ميدان وردک، بلخ، جوزجان او سرپل محبسونه ۲۴ ساعتې برېښنا لري او د ننګرهار، خوست او پکتيا ولايت محبسونه په پوره اندازه روښنائي لري.

رطوبت په مستقيمه توګه د محبوسانو پر روغتيا بانديد منفي اغيزه کوي، نو ځکه د کوټو رطوبت په محبسونو کې يوه بله ستونزه ده. په ځينو ولايتونو لکه دغور محبس دومره ډېر رطوبت لري چې د کوټو پر ديوالونو او چت باندې واښه راشنه شوي دي. دغور ولايت دکميسيون د څانګې رپوټ څرګندوي چې دمحبوس شوي کسانو ځيني سندونه لکه تذکرې او ابلاغ پاڼه د رطوبت له امله دمينځه تللي دي. په ټوليزه توګه د فراه، نيمروز، بادغيس، بغلان، تخار، جوجان، سرپل، بلخ، کندهار، بدخشان، غور، دايکندي، سمنګان او کابل ولايت محبسونه د رطوبت ستونزه لري. بايد داووايو چې د باميان، خوست، پکتيا او ننګرهار ولايت محبسونه رطوبت نلري.

دکوټوتو دولو اوسېرولو ډول ته هم لږه پاملرنه شوې ده، ځيني محبسونه پکې لري چې په اوړي کې دبرېښنا به وسيله باندې چليږي خو د ژمي په موسم کې داسې وسايل وجود نلري چې د کوټو دپاره دتودوخې اسانتياوې برابرې کې. يوازې د باميانو، خوست او پکتيا ولايتونه د تودوخې اسانتياوې لري، دولايت دبيا جوړولو څانګې د باميان دمحبس سره يو مقدار د ډېرو سکاره او د سوځلو توکې مرسته کړې ده، د ولايت د کميسيون سيمه ييزې څانګې رپوټونه څرګندوي چې په کوټو کې ګنه ګونه هم ددې سبب شوې ده چې په ژمي کې کوټې يوڅه تودې شي، ښځينه محبسونه يو څه ښه دي، د ښځو په ډېرو محبسونو کې د تودوخې او يخنې اسانتياوې وجود لري او په دې برخه کې لږ شکايتونه اوريدل شوي دي.

## اوبو او پاکي ته لاسرسي:

دمحبسونو د قانون ۲۵ ماده څرګندوي چې د محبسونو او توقيف ځايونو اداري څانګې بايد د محبوس شوي او توقيف شوي کسانو سن، روغتيائي حالت، په ځانګړې توګه د ميندواري او زيږدلو حالت، موسم او کار، مناسبې اوبه او خواړه برابر کاندې.

په ټوليزه توګه محبسونه او توقيف ځايونه دپاک ساتنې سيستم نلري، د سيمه ييزو څانګو رپوټ داسې څرګندوي چې په ډېرو محبسونو کې مناسب تشناب او حمام نشته. دنيمروز په ولايت کې د ۸۰ څخه تر ۱۰۰ کسانو پورې يو حمام لري، د تخار په ولايت کې د ۳۲۲ کسانو دپاره ۱۰ حمامونه ځانګړې شوي وه او د بغلان په محبس کې د ۲۳۴ محبوسانو دپاره ۳ حمامونه جوړ شوي وه، دغه شميرنې څرګندوي چې دغه شمير حمامونه د پورته شمير محبوس شوي کسانو اړتياوې نه پوره کوي او دوی ډېرې ستونزې لري. په ځينو محبسونو کې کس د يو ديوال شاته ځان رساوه او دحاجت رفع به يې کوله.

دکميسيون ولايتي اوسيمه ييزو څانګو رپوټ ورکړې دي چې د ډېرو محبسونو د تشناب وضعه په بدحالت کې وه، ډېرو محبسونو ځانګړې ځاي او تشنابونه نه درلودې خو يوه خلاصه سيمه يې د رفع حاجت دپاره ټاکلې وه ياني يو څلور ديوالې چې دروازه يې نه لري او چت هم پکې نه وو. د توقيف ځايونو حالت د محبس څخه بد تره وو د بدخشان ولايت په توقيف ځايونو کې توقيف شوي کس د رفع حاجت دپاره سارا ته بيول کيدې، په ټوليزه توګه ټولو محبسونو او توقيف ځايونو پاک تشنابونه او حمامونه نلرل، يوازي د ننګرهار، سمنګان، باميان او فارياب ولايتونو محبسونه د پاکو حمامونو او تشنابونو لرونکې وه. د ننګرهار ولايت د محبس حمامونه د ولايت د بيا رغوني ټيم له خوا څخه جوړ شوي دي او په ښه وضعيت کې اوسيږي.

پاکو اوبو ته لاسرسي په محبسونو کې يوه بله ستونزه ده، په ډېرو محبسونو کې د څکلو دپاره دڅاه د اوبو څخه کار اخلي او همدغه اوبه د ځان پريولو دپاره استعمالوي، ځيني محبسونه څاه هم نلري او محبوس شوي کسان مجبوره دي چې د ويالې او يا رود د اوبو څخه ګټه واخلي، چې هغه د روغتيائي له نظره پاک نه دي. دهغه ښه بيلګه د غور ولايت دي چې د څکلو او

ځان پرېولو دپاره د رود د اوبو څخه ګټه اخلي دا ځکه چې هلته د څاه اوبه تروې دي. د فراه، نیمروز او بادغیس ولایتونو محبوس شوي کسان اوبو ته لاسرسي نلري، خو د جوزجان ولایت محبوس شوي کسان د نل اوبه کاروي.

## خواړو ته لاسرسي:

د محبسونو او توقیف ځایونو قانون د خواړو پر کیفیت او کمیت باندي ټینګار کوي او د روغتیا وزارت ته يې دنده ورکړې ده تر څو د خواړو کیفیت او کمیت وڅاري. دې قانون روښانه کړې ده چې د محبوس شوي او توقیف شوو کسانو خواړه باید د هغه مینو سره سم ورکړل شي چې د وزیرانو د شورا له خوا تثبیت شوي دي[11].

محبوس شوي کسان باید کیفیت لرونکي غذا نه لاسرسي ولري. د کیفیت لرونکي خواړو معیار د هغوي په کالوري کې دي، خو د خواړو د کالوري معلومول یو سخت او تخنیکي کار دي. دکیفیت لرونکي خواړو سنجول د هغه پیسو څخه هم څرګندیږي چې ورته ځانګړي شوي دي. د کمیسیون د سیمه ییزو څانګو د رپوټونو څخه داسي څرګندیږي چې د آزادي سلب سیمو خواړه پوره او هم د کیفیت لرونکي دي. د محبسونو او توقیف ځایونو د لوي رئیس په وینا چې پخوا د هر محبوس د خواړو دپاره د ورځې ۶۰ افغاني ځانګړي شوي وې، که څه هم دغه اندازه اوس ۹۳ افغانیو ته لوړه شوې ده، خو د مالیې وزارت دهر بندي دپاره د ورځې د خوړو په منظور ۷۵ افغاني ځانګړي دي[12]. د هغه لارښود له خوا چې د عدلیې وزارت څخه صادر شوي دي، هر محبوس کولاي شي چې په اونی کې دري ځله غوښه او تازه میوه پخپلو خواړو کې ولري، خو بیا هم به ځینو محبسونو کې د بندیانو له خوا څخه شکایتونه اوریدل شوي دي، دا شکایتونو په ټولیزه توګه د خواړو د کښته کیفیت او د خواړو د ښه نه پخولو څخه اوریدل شوي دي. د هرات، غور، کابل، دایکندي، کندز، بدخشان او محبوس شوي کسان د خواړو د کښته کیفیت او د پخولو د ډول څخه شکایتونه لرل.

## دلوبو اسانتیاوو او آزادي هوا او د لمرو ړانګو ته لاسرسي:

وآزادي هوا ته لاسرسي او په خلاصه فضا کي اوسیدل د محبوس شوي کسانو د حقونو څخه دي چې باید د محبس د څانګي له خوا هغه مراعات کړل شي. د محبسونو او توقیف ځایونو قانون په ښکاره سره څرګند کړي دي چې محبوس شوي کسان حق لري چې د ورځې لږ تر لږه دوه ساعته په خلاصه فضا کې وګرځي او یاهم سپورټ وکي د محبس مشر کولاي شي چې په ځانګړو حالتونو کي دغه موده یوه ساعت ته را کښته کړي، په دغه حالت کې د محبس مشر مکلفیت لري چې دغه حالت وڅارنوالی ته خبر ورکړي[13].

آزادي هواته لاسرسي او په هغه کې اوسیدل بیله استثنا څخه د آزادي سیمو په ټولو محبسونو کي لیدل کیږي ټول محبوس شوي کسان حق لري چې د محبس په انګړ کې په آزاده توګه وګرځي، د کمیسیون د سیمه ییزو څانګو رپوټونه څرګندوي چې د محبسونو مسوول کسان ددغه څه د اجرا دپاره د مختلف ډولونو څخه کار اخلي. په ځینو محبسونو کي بندیان کولاي شي چې د سهار د اتو بجو څخه د مازیګر تر پنځو بجو پوري د محبس په انګړ کي وګرځي، خو په ځینو نورو محبسونو کي بیا وخت لږ وي مثلا دسهار د ۱۰ بجو څخه بیا د غرمي تر ۱۲ بجو پوري یا هم د ماپښین د ۱ بجي څخه تر ۳ بجو پوري ازاد ګرځیدلاي شي، دا باید له یاده ونه باسو چې په هیڅ محبس کي د دغه ګرځیدلو موده تر دوه ساعته لږه نه وه.

په ځینو محبسونو کي د سپورټ سامانونو (اسانتیاوو۹ ته لاسرسي شته خو په ځینو نورو کي بیا نشته، د ورزشي اسانتیاوو له پلوه د ننګرهار محبس دنورو په پرتله باندي ښه والي لري، په دغه محبس کي د بندیانو دپاره د فوټبال او د والیبال لوبي دپاره ډګرونه شته او بندیان کولاي شي چې لوبي وکړي، خو په ځینو نورو محبسونو کي یوازي د داسي لوبو زمینه برابره شوې ده کوم چې لږ ځاي ته اړتیا لري لکه سطرنج او والیبال. د بامیان، ننګرهار، جوزجان، کابل، هرات، کندز او څو نور

[11]- د محبس او توقیف ځایونو د قانون ۲۵ ماده، دوهم بند، رسمي جریده ۱۳۸۶ کال.
[12]- د جنرال امیر محمد جمشید سره مرکه د ۱۳۸۹ کال د وري ۱۴ (دمحبسونو لوي رئیس).
[13]- د محبسونو او توقیف ځایونو د قانون ۲۶ ماده ۱۳۸۶، رسمي جریده.

ولايتونو کي دغه اسانتياوي وجود لري. د کندهار، ميمني، بلخ، فراه، نيمروز، بادغيس، غور، دايکندي او سمنګان په ولايتونو کي دا ډول اسانتياوي نشته. د کميسيون دسيمه ييزو څانګو د رپوټونو څخه څرګنديږي چي په ځينو محبسونو کي که څه هم د سپورټ دپاره ځاي شته خو د سپورټ سامانونه نشته، خو په ډيرو محبسونو کي چي دسپورټ اسانتياوي نشته د هغه علت د ځاي نشتوالي ښودل شوي دي، مثلا د غور ولايت به محبس کي د سپورټ دپاره مناسب ځاي نشته د محبس انګړ د ۲۰ څخه تر ۳۰ متره پوري دي چي د سپورټ دپاره هيڅ ځاي نه پاتيږي. د محبسونو او توقيف ځايونو لوي رئيس دغه نيمګړتياوي مني او علت يې دا بولي چي دوي ته پوره بودجه نه ده ورکړل شوې او دولت هم په دې برخه کي پاملرنه نده کړې.

## د زده کړو پروګرامونو ته لاسرسي:

د زده کړي پروګرامونو ته لاسرسي د محبوسو کسانو د حقونو څخه شميرل کيږي، د محبسونو او توقيف ځايونو قانون په ښکاره څرګندوي چي د محبسونو او توقيف ځايونو اداري څانګي بايد کتابتونونه ولري ترڅو هلته د ويلو زمينه برابره وي، د عبادت، کار، ښووني او روزني، دزدکړي (مسلکي) دساتيري فعاليتونه، دتفريحي او فرهنګي او نور ولازمو اسانتياوو زمينه د محبوس شوي او توقيف شوو کسانو دپاره برابره کړي[١٤].

د ننګرهار، پکتيا، جوزجان، کابل، کندز، بدخشان، باميان، بلخ، هرات، غورو دايکندي په محبسونو کي د زده کړو پروګرامونه موجود دي او بنديان له هغه څخه ګټه اخلي، بايد ووايو چي دغه پروګرامونه کفايتت نکوي او په ډيرو محبسونو کي يوازي دوه يا درې ښوونکي لوست ورکوي، او په ځينو محبسونو کي د زده کړي سويه ډيره ټيټه ده او هغوي ترې شکايت لري. بنديان هغه کتابونه په آزاد ډول باندي لولي کوم چي دهغوي خپلوان يې ورته راوړي، دا چي څومره محبسونه کتابتونونه لري تر اوسه درست مالومات په لاس کي نشته.

په ځينو محبسونو کي د زده کړو د پروګرامونو د پرمخ بيوو دپاره ځاي نشته، دجوزجان په محبس کي د ځاي د کمبودي له امله د زده کړو پرمخ بيولو پروګرام نشته، په ځانګړي توګه د ژمي په موسم محبوسان د يخني له امله په پروګرامونو کي ګډون نکوي، له نيکه مرغه په دې وروستيو کي د هرات ولايت په محبس کي د زده کړي د مرکز دد بنسټ ډبره ايښودل شوې ده چي په نژدې کي به دهغه کار پاي ته ورسيږي، په دې محبس کي نارينه او ښځينه په مختلفو زده کړو لکه د لوست زده کړه، ديني علوم انګريزي ژبه، کمپيوتر، ګنډل، ګل دوزي، اوبدل، غالي اوبدل، حلبي سازي، سلماني، ترکاڼي، خوړې پخول او فلزکاري باندي بوخت دي.

## وروغتيائي خدمتونو ته لاسرسي:

دمحبسونو او توقيف ځايونو قانون د روغتيائي خدمتونو د مرعاتولو او دآزادي سلب سمو کي د روغتيائي خدمتونو په برخه کي ډير څه ليکلي دي. ددې قانون د ۲۷ مادې په لومړي بند کي راغلي دي چي د محبسونو خدمتونو او توقيف ځايونو اداري څانګي مکلفيت لري چي د بنديانو دپاره د روغتيا وزارت په مرسته وړيا خدمتونه او مرستي برابري کړي[١٥]. د محبس قانون يوه بله ماده هم لري چي هغه ناروغان چي دهغوي تداوي د آزادي سلب سيمو کي ناممکنه وي ځانګړي کړي ده او په همدې ډول د هغه کسانو قرنطين چي په خطرناکه ناروغيو باندي اخته وي ليکلي دي چي دا ډول کسان په ځانګړو ځايونو کي د قرنطين په توګه د نورو څخه جلا وساتل شي[١٦].

له بده مرغه چي په ډيرو محبسونو او توقيف ځايونو کي روغتيائي اسانتياوي هغه شان چي بايد وي نشته، په ځينو محبسونو کي اساساً چي رنځور پوه او درمل نشته، په ځينو محبسونو کي چي ډاکتر او درمل شته خو هغه دښه کيفيت لرونکي نه دي.

[١٤]- د محبسونو او توقيف ځايونو د قانون ۲۸ ماده. رسمي جريده، ۱۳۸۶ کال.
[١٥]- د محبسونو او توقيف ځايونو د قانون ۲۷ ماده لومړي بند، رسمي جريده ۱۳۸۶ کال.
[١٦]- د پورته قانون د ۲۷ مادي څلورم بند.

د میمني، دایکندي، نیمروز او بادغیس د ولایتونو په محبسونو کي اصلاً خو نه ډاکټر شته او یا هم کوم نرس یا درمل، په ځینو نورو محبسونو کي کوم کس د ډاکتر په نوم ناست دي چي پوره مهارت نلري او درمل هم ډیر نه وي، چي هغه هم د مرستندویه ځانګو څخه ورکړل شوي دي، په لنډه توګه سره ویلاي شو چي په دغه محبسونو کي بندیان یوازي لومړنیو مرستو ته لاسرسي لري، د کمیسیون د ولایتي ځانګو ریپوټونه لیکلي چي د پکتیا، کابل، سمنګان، کندهار، او بلخ ولایت په محبسونو کي د روغتیائي خدمتونو اسانتیاوي موجودي دي خو هر محبس بیا ځانګړي ستونزي لري، دپکتیا ولایت په محبس کي موظف ډاکتر ډیر وخت ناسوب وي او دندي ته نه ځي. د کابل د پلچرخي په محبس کي پوره درمل نشته د سمنګان په ولایت کي ډاکتر په اونۍ کي یوازي یو ځلي د ناروغو محبوسانو د کتني دپاره ورځي دکندهار په محبس کي پوره اندازه اسانتیاوي موجودي نه دي او ډیر ځله ناروغان او روغتونونو ته وړل کیږي، د بلخ په ولایت کي مسلکي رنځور پوه نشته او په پوره اندازه درمل او نوري اسانتیاوي نشته.

د تخار، کندز، ننګرهار، جوزجان، غور، بدخشان او بامیانو په ولایتونو کي روغتیائي اسانتیاوي په نسبتي ډول مناسب حالت لري او په دي اړه کوم شکایت نه دي اوریدل شوي د جوزجان په ولایت کي د روغتیا په برخه کي یوه نوي ځانګه جوړه شوې ده چي هغه درې بستره لري او ناروغه بندیان هلته تر درملني لاندي نیول کیږي په همدې ډول په دې وروستیو کي په دې محبس کي د معتادو کسانو د درملني دپاره یو روغتون جوړ شوي دي چي په ښو سامانونو باندي سمبال دي. پورته محبسونه مناسب سامانونه او دهغه جملي څخه ترانسپورتي وسیلي هم لري خو دښځینه بندیانو په برخه کي هغه ښځي چي میندواره کیږي او بیا اولاد زیږوي هغوي تر ځانګړي درملني لاندي نه نیول کیږي که څه هم په دې وروستیو کي د بدخشان ولایت د محبس مدیریت دوه موټره لري، خو بندیان بیا په ولچک لاسونو او زولانه پښو باندي پلي او محکمي ته بیول کیږي، حتا د مرکزي محبس څخه بندیان د هغوي په لګښت باندي ولسوالیو او نورو سیمو ته بیول کیږي.

دکمیسیون د ولایتي ځانګو څخه د محبسونو د روغتیائي خدمتونو په برخه کي ډیر شکایتونه شوي دي چي لوي شکایت یي د مسلکي او تجربي لرونکي رنځور پوه نشتوالي دي او په همدې توګه د پوره درمل نشتوالي، مناسب ځاي چي ناروغان پکي وکتل شي، د ساري ناروغانو دپاره د قرنطین ځاي نشتوالي او دمعتادو ناروغانو دپاره د ځاي کمبودي په ریپوټ کي لیکل شوي دي. دبلخ، دایکندي، بادغیس، پکتیا، کندهار، کندز، غور او بدخشان ولایتونو په محبسونو کي په ساري ناروغیو اخته کسان د نورو بندیانو سره په یوه ځاي کي ساتل کیږي او په دې لړ کي هیڅ ډول قرنطین نشته په داسي حال کي چي ځیني ریپوټونه خبر ورکوي چي ځیني محبوس شوي کسان لکه توبرکلوز، او تور زیړي باندي اخته دي، هغه دلیل چي دوي راوړي هغه په محبس کي د ځاي نشتوالي دي، داسي څرګندیږي چي د عدلیي وزارت او د محبسونو اداري ځانګي د بندیانو د وضعي په برخه کي او په ځانګړي توګه د هغوي د اوسیدلو ځاي او دهغوي د روغتیا په برخه کي لږ څه پرمختګ لیدل شوي دي.

## دکورنۍ او دوستانو سره اړیکي:

د کورنۍ او دوستانو سره اړیکي د محبسونو او توقیف ځایونو په قانون کي د بندیانو د حق په توګه پیژندل شوي دي. د محبسونو او توقیف ځایونو د قانون ۳۱ ماده بیا نوي چي محبوس او توقیف شوي کسان حق لري چي په ځانګړي شوي ځاي کي د موظف شوي کسانو تر کنترول لاندي کتني وکړي او یا هم د لیک او پوستي له لاري چي نظم ته تاوان ونکړي دخپلو دوستانو سره اړیکي ونیسي[۱۷].

د افغانستان په ټولو محبسونو کي د کورنیو سره د اړیکو نیولو حق ته درناوي کیږي. خو هغه وخت چي محبوس شوي کسان د خپلو کورنیو سره وګوري د اداري ځانګو له خوا تنظیمیږي. د محبس او توقیف ځاي په قانون کي هم د بندیانو د کتني د وخت نه دي ټاکل شوي او په دې اړه هم څه نه دي ویل شوي، محبسونو په اونۍ کي دوه ځله د بندیانو او د هغوي د خپلوانو د کتني وخت ټاکلي دي چي په ټولو محبسونو کي بندیان کولاي شي چي په اونۍ کي دوه ځله د خپل خپلوانو سره وګوري خو

[۱۷]- د محبسونو د قانون ۳۱ ماده، لومړي بند. رسمي جریده ۱۳۸۶ کال.

یوازې د کابل دپلچرخي په محبس کې بندیان به ۱۵ ورځو کې د خپلوانو د لیدلو حق لري، د محبسونو او توقیف ځایونو لوي رئیس دهغه دلیل د محبوس شوي کسانو د کتنو د تنظیم ستونزه ښودلي ده، ځکه چې دلته د بندیانو شمیر ډیر دي. د نیمروز او دایکندي په محبسونو کې د کتنې موده په اونی کې یوځل ښودل شوې ده، د کتنې وخت هم توپیر کوي ځکه په ځینو محبسونو کې دغه موده یو ساعت، په ځینو نورو کې نیم ساعت او په نورو محبسونو کې د وخت محدود والي نشته، د کابل د پلچرخي په محبس کې کله چې د بندي خپلوان له ډیرو لیرو سیمو څخه راغلي وي نو بیله دې چې د وخت موده په نظر کې ونیول شي خپلوانوته حق ورکول کیږي چې خپل بندي وګوري.

## د ثبتولو کتاب او دنظم د عمل طریقه:

د محبسونو اااو توقیف ځایونو نظم او کنترول د اداري ځانګو د مهمو مسئولیتونو څخه شمیرل کیږي، د محبسونو او توقیف ځایونو د قانون لسمه ماده هم پر دې امر ټینګار کوي، د ثبتولو کتاب د حقونو د رسیدني او د محبس د نظم او کنترول دپاره ډیر اړین دي. د ثبت په کتاب کې د ننوتلو نیټه، د حکم شوي حبس موده او د محبوس د وتلو نیټه لیکل کیږي، د ثبت کتاب باید هره ورځ وکتل شي او کوم نوي کسان چې محبس ته راځي د هغوي نومونه ولکیل شي، هغه کسان چې د محبس څخه آزادیږي هم یې نومونه لکیل کیږي او په محبسونو او توقیف ځایونو کې باید نظم وساتل شي او ددغه نظم او دسپلین راوستلو دپاره باید ځانګړي تد بیرونه په نظر کې ونیول شي.

د ثبت کتاب د هیواد په ټولو محبسونو کې موجود دي. په دې برخه کې هیڅ ډول کمبودي نشته، تقریباً ټول یا ډیره برخه محبسونه د ځانګړي ثبت کتاب څخه ګټه ترلاسه کوي خو د ځینو ولسوالیو په توقیف ځایونو کې د ځانګړي ثبت کتاب نشته نو ځکه د دغو ولسوالیو مسوول کسان هغه کتابچې کاروي کوم چې خپله یې جوړي کړي دي، د غور د ولایت څخه د کمیسیون ځانګې رپوټ راکوي چې د پورته ولایت په ۹ ولسوالیو کې د ثبت هیڅ ډول کتاب نشته، د محبسونو لوي رئیس هم په ځینو توقیف ځایونو کې د ثبت د کتاب نشتوالي رد نکړ[۱۸].

د کمیسیون سیمه ییزې ځانګې رپوټ راکوي چې ټول محبسونه او توقیف ځایونه د پورته طریقې څخه ګټه اخلي او د نظم له پلوه څخه په ښه وضعه کې اوسیږي، په ډیرو محبسونو کې پوځي ساتونکي په پوره کچه باندې شته او په دې برخه کې کوم شکایت نه دي ثبت شوي، د کمیسیون ځانګو رپوتت راکړي دي چې پوځي کسان حق نلري چې د وسلو سره محبس ته ننوزي، په ډیرو محبسونو کې د اداري ځانګې کوټې او د ناستې ولاړې خونې د بندیانو د برخې څخه جلا شوي دي، د ځینو محبسونو اداري ځانګو د لاښه نظم او د شکایتونو د رفع کولو دپاره په ښو کړونو لاس پوري کړي دي. هغوي د ښه نظم ساتلو په خاطرو د بندیانو د شکایتونو د رفع کولو په منظور د هرې کوټې څخه یو کس؛ په دې ګمارلي دي ترڅو هغوي د محبس نظم کنترول کړي او د محبوس شوي کسانو شکایتونه د محبس اداري ځانګو ته ورسوي.

په ځینو محبسونو کې د محبوس شوي کسانو له خوا څخه اعتراضونه او اعتصابونه شوي دي د ۱۳۸۸/۷/۱۴ نیټه باندې د پکتیا په محبس کې محبوس شوي کسانو ؛په اعتصاب لاس پوري کړ خو دغه اعتصاب ته به تاوتریخوالي سره ځواب ورکړل شو او غلي کړل شو، پولیسو وسلوته مخه کړه او د مرمیو په وسیله یې څلور تنه ټپیان کړل چې یو کس یې ډیر سخت لګیدلي وو، چې دهغه له امله دهغه محبس رئیس بدل کړل شو.

د کندهار په ولایت کې هم ۴۰ کسو بندیانو په اعتصاب لاس پوري کړ چې په پاي کې د پوځیانو په وسیله دغه اعتصاب پاي ته ورسیدي.

---

[۱۸]- د جنرال امیر محمد جمشید د محبسونو د لوي رئیس سره مرکه د ۱۳۸۹ کال د وري ۱۴.

# شکنجه او ناوړه چلند:

شکنجه او ناوړه چلند په هرحال کي غیر قانوني عمل دي او هیڅ قانون او سند هغه ته اجازه نه ورکوي، د افغانستان په اساسي قانون کي هم د انسان تعذیب منع شوي دي. د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه، دمدني او سیاسي حقونو کنوانسیون او دشکنجي د منع نړیوال کنوانسیون هم په ښکاره توګه شکنجه او دد محبوسانو سره ناوړه چلند منع کړي دي. له نیکه مرغه چي په دي برخو کي بري شته خو بیاهم د آزادي سلب سیمو کي شکنجه او ناوړه سلوک یو د ډیرو سختو اندیښنو څخه دي، شکنجه، ناوړه چلند په ځانګړي توګه دملي امنیت د څارني څانګي له خوا سرته رسیږي، چي د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا ثبت شوي او رپوټ ورکړل شوي دي.

د نیکه مرغه په محبسونو او توقیف ځایونو کي د شکنجو او ناوړه چلند د مخنیوي دپاره تدبیرونه نیول شوي دي د محبسونو او توقیف ځایونو لوي رئیس وایي چي په دوو وروستیو کلونو کي د ۴۶۰۰ کسانو په شمیر د محبس او توقیف ځایونو کار کوونکي، څارونکي او مسوولین دد ۳ میاشتو څخه تر ۶ میاشتو پوري ځانګړي زده کړي کړي دي چي د بندیانو سره څه ډول چلند وکي[19]. که څه هم په وروستیو کلونو کي د توقیف شوو او محبوس کسانو په وړاندي د شکنجي او بد چلند کچه ټیټه شوي ده، خو بیاهم رپوټونه لیکي چي لا تر اوسه پوري د آزادي سلب سیمو کي د بد چلند او شکنجي څخه کار اخیستل کیږي، په ۱۳۸۸ کال کي د کمیسیون د دولایتي څانګو څارونکو رپوټ ورکړي دي چي د آزادي سلب سیمو کي ۲۶ ځلي شکنجي ثبت شوي او تثبیت شوي دي. په غالب ګمان چي د شکنجو شمیر به له دي څخه هم ډیر وي خو دهغه تثبیت یو ستونزمن کار دي. شکنجه په تولیزه توګه د دي دپاره کیږي چي د څیړني په وخت کي د بندي څخه د جرم منل واخلي.

((دکندز د ولایت څخه محمد یونس د ۱۳۸۸ کال د وري په میاشت کي کمیسیون ته راغلي وو، هغه وویل چي پر ناحقه باندي یو کس د عبدالواحد په نوم پر ما عرض کړي دي چي ما د هغه څخه ۱۱۰۰۰ زره افغاني او ۵ تنو څخه یي څلور سیټه موبایلونه اخیستي دي چي دغه ادعا باالکل دروغ خبره ده. د څیړني (تحقیق) په وخت کي هغه د کندز ولایت د امنیتي قوماندانی له خوا وهلي او ټکول شوي دي. چي دهغه له امله دي ډیر په تکلیف شوي دي، ددغه وهلو، ټکولو په سبب په شپو، شپو دهغه د غوږو او سږمو څخه وینې راځي دي اوس به څارن ځاي کي دي)).

د بشر د حقونو په ډیر نړیوالو سندونو کي او په ځانګړي توګه د شکنجي د منع په نړیوال کنوانسیون کي د شکنجي سره ځانګړي حساسیت ښودل شوي دي، د بشر د حقونو د نړیوالو سندونو او افغانستان د قوانینو په مطابق چي شکنجه کوونکي باید تر قضائي څیړونو لاندي و نیول شي او سزا ورکړل شي. خو په عمل کي په هیواد کي هغه څوک چي شکنجي او ناوړه چلند کوي د عدلي او قضائي څانګو له خوا نه پوښتل کیږي. د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون، ډیر هغه کسان چي د شکنجي عمل کوي اړونده څانګو ته وریپژندلي دي، خو دغو څانګو هیڅ ډول پاملرنه نده کړې چي دغه کسان وپوښتي. د فاریاب ولایت په یوه توقیف ځاي کي یو تاووتریخوالي ثبت شوي دي چي د شکنجي ورکوونکي د کمیسیون په هڅو باندي د ولایتي محکمي له خوا څخه په یوه کال بند محکوم شوي دي.

له بده مرغه چي پولیس د نیوني او یا هم یوې دعوا ته درسیدو او یاهم د یوې حقوقي شخړي په وخت کي خلکو ته وهل، ټکول ورکوي چي دغه څه دقانون په وړاندي عمل دي.

((د غزني په ولایت کي په ۲۰۰۹/۰۵/۰۹ نیټه یو کس کمیسیون ته راغي او ویي ویل چي ما پخپل مځکي کي کار کاوه او په کښت بوخت وم چي د ګاونډي پسونه زما مځکي ته راننوتل او کښت یي وخوړي او وني یي هم ماتي کړي ما په ډبرو باندي پرهغو پسونو باندي وارونه وکړل او یوه ډبره د یوه پسه پر سر ولګیده هغه پسه ځاي پرځاي مړ شو، د پسه خاوند چوپ پاته شو او څه ادعائي ونکړه، خو نور لمسونکي کسان پیدا شول او دشخصي دښمني له کبله یي پولیسو ته غلط خبر ورکړ چي ما دغه پسونه غلا کړي او بیا یې وژلي دي، پولیس د مځکي خاوند بیولي او پر لاس یې لګولي سګرټ ایښي دي، دهغه مور یې هم وهلې ټکولې ده او دهغه پلار یې هم، مجبوره کړي دي چي د جنائي آمرته ابراه ورکي))

[19]- د توقیف ځایونو او محبسونو د لوي رئیس جنرال امیر محمد جمشید سره مرکه د ۱۳۸۹ کال، د وري ۱۴.

## د ولچک او زولانې استعمال:

د قانون په مطابق باندي ولچک او زولانه په ځانګړو وختو کي اسعمالیدلاي شي، د پولیسو د قانون سره سم په هغه حالت کي چي د مظنون کس د تېښتیدو امکان موجود وي او یاهم د منظنون کس یا متهم کس د لیږدولو په حالت کي کله چي اړین وي ولچک او زولانه استعمالیدلاي شي، د محبس او توقیف ځاي په دننه کي د ولچک او زولاني څخه کار اخیستل منع دي او هغه ته د شکنجي په سترګه کتل کیږي، د کمیسیون څانګو ریوټ ورکړي دي چي په ځینو توقیف ځایونو کي د شپې له خوا څخه د ولچک او زولاني څخه کار اخلي تر څو توقیف شوي کسان ونه تېښتي که څه هم د توقیف ځایونو او زولاني او ولچک په برخه کي دقیق او درسته څیړنه په لاس کي نشته خو څیرونو ښودلي ده چي د غور، دایکندي، هرات، غزني، بامیان، بدخشان، کندز فاریاب، جوزجان او بلخ په ولایتونو کي کله کله د ولچک او زولاني څخه کار اخلي ترڅو توقیف شوي کسان ونه تېښتي او بې نظمي د نظم ځاي و نه نیسي. د محبسونو او توقیف ځایونو لوي رئیس هم د ولچک او زولانې استعمال انکار نکړ، خو هغه وویل چط دا کار یوازي په استثنائي ډول صورت نیسي او تولیز شکل نه لري د پکتیا ولایت په محبس کي دبندي زولانه کول په عادي امر تبدیل شوي دي او ډیر بندیان د دې چلند څخه راضي دي.

د توقیف ځایونو ډیرو مسوولینو د ولچک او زولاني استعمال د ساتني د تدبیرونو پوره نشتوالي او پوره شمیر ساتونکي نه لرل بولي، په هر حال چي دغه ستونزي باید د مسوولینو له خوا حل شي او دساتني تدبیرونه باید ډیر کړل شي او باید د ولچک او زولاني استعمال بند کړل شي. د عدلیې وزارت د پولیسو څانګه دنده لري چي د محبسونو او توقیف ځایونو ودانۍ ورغول شي او د محبوس شوي کسانو د فرار د مخنیوي څخه د قانوني تبدیرونو څخه کار واخلي.

## رخصتي ته لاسرسي:

د محبسونو او توقیف ځایونو د قانون ۳۷ ماده محبوسانوته د حالاتو په نظر کي نیولو سره تر ۲۰ ورځو پوري رخصت ورکول کیږي. د قانون دغه ماده د کورنیو د ښو اړیکو ساتلو په مطلب چي محبوسان یي باید د خپلو کورنیو او اړونده چاپیریال او د قانون د تابعیت د احساس په منظور باندي د محبس په دننه او دباندي کي منیځ ته راغلي دي.

په ډیرو محبسونو کي د رخصتي د قانون مراعاتول نه پلي کیږي. په ځینو محبسونو کي د یو څخه تر درې کسه پوري په یوه کال کي د یوې اونۍ څخه تر لسو ورځو پوري رخصت اخیستي دي. خو په ځینو نورو محبسونو کي بندیانو ته هیڅ ډول رخصت نه دي ورکړل شي. د بدخشان، بلخ، سمنګان، فاریاب، پکتیا، جوزجان او هرات په محبوسونو کي د یوه څخه تر دري کسانو پوري د یوې اونۍ څخه تر څو ورځو پوري رخصتي اخیستي ده خو د کابل، کندز، بغلان، تخار، ننګرهار، بامیان، خوست، کندهار او دایکندي به محبسونو کي په تیر کال کي هیڅ رخصتي نه ده ورکړل شوې، د نورو محبسونو په هکله پوره مالومات په لاس کي نشته.

ډیر محبوس شوي کسان د خپل حقونو څخه خبر نه دي، نو ځکه هغوي د خپلو حقونو د غوښتنه د مسوولینو څخه نشي غوښتلاي، د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون په ډیرو محبسونو کي د محبوسو کسانو دپاره تبلیغاتي پاڼي خپرې او ویشلي دي. خو دا کفایت نکوي، د محبسونو او توقیف ځایونو مسوولان هم ملکفیت لري تر څو بندیان د آزادي د سلب سیمو د قوانینو څخه پوهه ولري او په دې برخه کي ځانګړي پروګرامونه ترتیب او پلي کړي.

## پایله:

په ټولیزه توګه ویلاي شو چي د آزادي سلب سیمو وضعه ښه نده او ډیر محبسونه او توقیف خایونه د هغه معیار سره جوړ نه دي کوم چي محبوس شوي او توقیف کسانن پکي اوسیږي. د افغانستان دولت هم په دې برخه کي کومه پاملرنه نده کړې او د آزادي سلب سیمو د اعتبار او د بیا رغولو دپاره یي ډیره لږه بودجه ځانګړي کړې ده. ډیر محبسونه او توقیف خایونه د ځاي د کمبودي او د ګڼه ګوڼي سره مخامخ دي، د هغه معیار سره چي د عدلیې وزارت په نظر کي نیولي دي د هر بندي یا متهم

دپاره د دري څخه تر څلورنيم متر مربع پوري مساحت په نظر کي نيول شوي دي خو په هيڅ محبس کي د غه معيار په عمل کي نه دي پلي شوي. د جوړښت له مخي د اوه محبسونو پرته نور ټول محبسونه او توقيف ځايونه معياري جوړښت نلري، نو دغه ودانۍ د ملګري ملتونو او د اسلامي ارزښتونو په معيار چې د محبسونو او توقيف ځايونو د قانون په ۲۳ ماده کي هم راغلي دي هغه شان نه دي.

د محبسونو د ځانګړي جوړښت د نه لرلو له کبله ډير محبوس کسان په مختلفو ستونزو اخته. ډير محبسونه او توقيف ځايونه پوره حمامونه، او تشنابونه چې د محبوسو کسانو د شمير سره مناسبت نلري که حمام او تشناب هم وجود لري اصلاً مناسب نه دي او پاکي او نظافت نلري. د بله پلوه څخه د محبسونو او توقيف ځايونو کوټې رطوبت لري چې هغه د بنديانو او روغتياته ضرر رسوي، ځيني کوټې داسي جوړي شوي دي چې اصلاً د لمر وړانګي هلته نشي رسيدلاي، په ژمي کي د تودوخي او په دوبي کي د سوړوالي د اسانتياوو څخه کوم خبر نشته، يوازي يو څو محبسونه د تودوخي او يخني د آسانتياوو توان لري. د آزادي سلب سيمو کي اوبو ته لاسرسي يوه بله ستونزه ده چې محبوس شوي او توقيف شوي کسان ورسره مخامخ دي.

ډير محبسونه د ډاډ وړ او پاکي اوبه نلري او ډير محبوس او توقيف شوي کسان د ځاه يا هم د رود اوبه څکي، خواړو ته د بنديانو په لاسرسي کي يوځه ښه والي راغلي دي، هر بندي ته په ۲۴ ساعته کي ۷۵ افغانۍ ځانګړي کړل شوي دي چې تقريباً په دغه مبلغ باندي مناسبه خواړه اخيستل کيداي شي. ټول بنديان کولاي شي په ټول محبسونو کي دد ورځي څو ساعته په آزاده هوا کي (لمرته) وګرځي او په دې برخه کي هيڅ شکايت نه دي اوريدل شوي، په ځينو محبسونو کي د بنديانو دپاره دلوبو او تفريح دپاره اسانتياوي مينځ ته راغلي دي خو د محبسونو ډيره برخه بيا دغه اسانتياوي نلري، روغتيائي خدماتو ته لاسرسي هم يوه بله ستونزه ده چې په ډيرو محبسونو کي ليدل کيږي.

په محبسونو او توقيف ځايونو کي د روغتيائي خدمتونو اسانتياوي په پوره اندازه نه دي، کيداي شي چې هغه ته د لومړنيو مرستو اسانتياوي ووايو، نو له همدې کبله ناروغ بنديان او روغتونونو ته راوړل کيږي، د بله پلوه څخه په ځينو محبسونو کي د ځاي د نشتوالي له کبله ساري ناروغان نه دي قرنطين شوي او دوي په يوه کوټه کي د نورو بنديانو سره اوسيږي د ليک لوست دپاره او ياهم د مسلکي زده کړو په برخه کي هغوي د کمبودي سره لاس په ګريوان دي، د څو محبسو پرته لکه هرات نور ټوله د منظم پروګرام د زده کړو په برخه کي نلري.

په دې اړه چې د بنديانو خپلوان هغوي وګوري ډيري ستونزي نشته، تقريباً ټولو محبسونو د خپلوانو د ليدلو دپاره وخت او مهال ويش ټاکلي دي يوازي د کابل پلچرخي، نيمروز او دايکندي ولايتونو محبسونه دغه ډول مهال ويش نلري. هغه رخصتی چې د قانون له مخي بنديانوته ټاکل شوي دي په ډيره لږه شمير بنديان دهغه څخه ګټه اخلي. په ځينو محبسونو کي يوازي د ۱ څخه تر ۳ کسانو پوري د ۷ ورځو څخه تر ۱۰ ورځو پوري رخصتي اخيستي ده. دا بايد ووايو چې ټول محبسونه د ثبت کتاب لري خو د توقيف ځايونو په اړه بايد وليکو چې ځيني يې د ثبت کتاب نلري.

د شکنجي عمل او ناوړه چلند د پخوا څخه راټيټ شوي دي او محبوس او توقيف شوي کسان د پخوا په شان نه شکنجه کيږي خو بياهم په ځينو محبسونو او توقيف ځايونو کي شکنجي ورکول کيږي. په ۱۳۸۸ ل کال کي د سلب آزادي سيمو کي ۲۶ مورده شکنجې د کمسيون له خوا ثبت شوي دي، داهم بايد ووايو چې دغه شکنجې د کشف او څيړني په وخت کي د پوليسو له خوا شوي دي د محبس د کارمندانو له خوا محبوس کسانوته د شکنجي ورکولو رپوټونه لږ ثبت شوي دي. بايد دا هم زياته کړو چې د محبس په دننه کي په غير استثنايي حالتونو څخه د ولچک څخه ډير لږ کار اخيستل کيږي، خو په ځينو محبسونو کي د تښتيدو له ويري د شپي له خوا څخه د ولچک څخه کار اخلي، چې دهغه سبب د ودانيو نشتوالي او په توقيف ځايونو کي مناسبه وداني نلرل ښودل شوي دي. د آزادي سلب سيمو کي ددغه ټولو کمبوديو او ستونزو سره سره بياهم د محبسونو او توقيف ځايونو لوي رياست لاس ته راوړني هم لري، پورته رياست په دې توانيدلي دي چې اووه (۷) نوي محبسونه به معياري کچه بانديد جوړ کړي او هم يې د درس او زده کړي په برخه کي ښه پروګرامونه تنظيم کي او هم يې کارمندانو ته د محبوس سره د ښو اړيکو د ساتلو په هکله ورکشاپونه پرانستلي دي.

د افغانستانت دبشر د حقونو دخپلواک کميسيون د دغه نسبي لاس ته راوړونو څخه چې د آزادي سلب سيمو کې د اصلاحاتو دپاره شوي دي کور وداني وايي. د محبسونو او توقيف ځايونو مسوولينو تل د کميسيون د څارونکو سره مرسته کړې ده چې دا ډير مهم گام دي. دمحبسونو او توقيف ځايونو د قانن سره سم چې د محبسونو او توقيف ځايونو لويه شورا دنده لري چې په هرو درو مياشتو کې يوه ناستي (مجلس) وکي، خو په 1388 کې يوازي دعدليې وزارت له خوا څخه يو ځلي دا ناسته شوي ده.کميسيون ټينگار کوي چې د آزادي سلب سيمو کې اصلاحگاني او بدلون راوستل د محبسونو او توقيف ځايونو د عالي شورا له خوا تر پخوا لا فعاله او منظم شي.

## غوښتني: (وړانديزونه):

1. د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کميسيون د حکومت او ملي شورا څخه غوښتونکي دي چې د پورته ځانگې کلني بودجه د هيواد نافذه قوانينو د غوښتونو او دبشري حقونو نړيوالو سندونو له مخې داسې ترتيب کړي چې وکولاي شي د آزادي سلب سيمو ستونزي ور حل کړي.
2. کميسيون د نړيوالي ټولني څخه غوښتنه کوي چې د عدليې وزارت سره مرستي وکړي ترڅو هغوي وکولاي شي محبسونه او توقيف ځايونه جوړ او ياهم بيرته ورغوي.
3. کميسيون د محبسونو د عالي شورا څخه هيله لري چې د محبسونو او توقيف ځايونو د قانون سره سم فعاله شي او د خپل واک څخه قانوني گټي ترلاسله کړي او په دې ډول د بنديانو وضعه سمه شي او دهغوي دشکايتونو کچه راټيټه کړي شي.
4. کميسيون د عدليې وزارت ته وړانديز کوي چې د محبسونو او توقيف ځايونو د جوړولو دپاره هڅې وکړي او د محبسونو او توقيف ځايونو د بيا رغولو او جوړولو دپاره ځانگړي پروگرام ترتيب کړي.
5. کميسيون د عدليې وزارت څخه غواړي چې د ښځو د محبسونو او توقيف ځايونو جوړولو او بيا رغوني ته پاملرنه وکړي.
6. کميسيون د عدليې وزارت څخه غواړي ترڅو د متهمينو او محکوم شوي کسانو په وړاندي د بد چلند او ناوړه وضعيت کولو مخه ونيسي.
7. کميسيون د عدليې وزارت ته وړاندير کوي ترڅو د محبسونو او توقيف ځايونو د کارمندانو د ښووني او زده کړي په برخه کې نوري هڅې هم وکړي او کميسيون تيار دي چې په دې برخه کې دهغوي سره مرسته وکي.
8. کميسيون د عدليې او روغتيا وزارتونو څخه هيله لري ترڅو د آزادي سلب سيمو د روغتيائي خدمتونو وضعيت ته جدي پاملرنه وکړي او هغه فعاله کړي.
9. کميسيون د عدليې او ښووني او روزني د وزارتونو څخه هيله کوي چې د زده کړي منظم پروگرامونه (د ليک، لوست او مسلکې زده کړي) د بنديانو دپاره جوړ او ترتيب کړي.
10. کميسيون د عدليې وزارت څخه هيله کوې چې د محبسونو د څارنکو ظرفيت جوړونه او دهغوي ژوند ته ډيره پاملرنه وکړي.